



This work is licensed under a
[Creative Commons Attribution 4.0 International License]

**AL DALILI**
Bi-Annual, Multilingual (Arabic, Balochi, Brahui, English, Pashto, Persian, Urdu)
ISSN: 2788-4627 (Print), ISSN: 2788-4635 (online)
Project of **RAHATULQULOOB RESEARCH ACADEMY,**
Jamiat road, Khiljiabad, near Pak-Turk School, link Spini road, Quetta, Pakistan.
Website: www.aldalili.com
Approved by Higher Education Commission Pakistan
Indexing: » IRI (AIOU), Tahqeeqat, Euro pub, MIAR.

## TOPIC

# صاحبزاده حمید اللّٰہ د یو سفرنامه نگار په حیث

# sahibzada Hameedullah as a travel visitor

***AUTHOR***

1. Muhammad Zakir, Ph.D Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar, KPK, Pakistan.
   Email: zakir.khanzt@gmail.com

**How to Cite:** Muhammad Zakir. (2024). PASHTO: صاحبزاده حمید الله د یو سفرنامه نګار په حیث: sahibzada Hameedullah as a travel visitor. *Al-Dalili*, *5*(2), 01–08. Retrieved from https://aldalili.com/index.php/dalili/article/view/129

*URL:* https://aldalili.com/index.php/dalili/article/view/129
Vol. 5, No.2 || January–June 2024 || PASHTO-Page. 01-08
Published online: 08-01-2024

# صاحبزاده حمیدالله د یو سفرنامه نګار په حېث

Sahibzada Hameedullah as a Travel visitor

محمد زاکر

**ABSTRACT:**
sahibzada hameedullah was a famous pashto writer and author. He has written many books in pashto, arabic and urdu on different topics. The visit of arab (da arabistan sal) which is a famous pashto travelogue has written by late sahibzada hameedulla. This travelogue published in the year 2005 for the first time by pashto academy quetta. there is alot of information about culture, civlisation and religion in this travelogue for general reader. As this travel has done very early and published after a long time but it is considered very impotant in the 21st century travelogues. In this travel (da arabistan sal) sahibzada hameedullah has written all the events, condition, story, meetings, arab geography, their culture and way of life, customs of joy and sorrows, virtues superstitions, weather and etc has made the part of his travelogue.
**Keywords:** Sahibzada Hameedullah, Pashto travelogue, writer, author.

تر دې وړاندې چې د صاحبزاده حمیدالله د یو سفرنامه نګار په توګه وپېژنو، لومړے باید دا په ګوته کړو چې سفرنامه په اصل کښې څۀ ته وائي ؟ هسې خو ډېرو محقیقینو او ادبپوهانو د سفرنامې د تعریف او پېژندنې په لړ کښې خپل خیالات وړاندې کړي دي چې یو رنګه مفهوم او معنا ورکوي،په دې لړ کښې سر محقق سید محي الدین هاشمي مونږ ته سفرنامه داسې راپېژني:

"د ژوندانه په سفر کې جسماني سفرونه سته، له یوه ځایه بل ځاے ته خلک ځي، ځمکه نغاړي، د یوه اقلیمه بل ته اوړي، له یوه ولسه بل ته ځي، له دغو لارو ځیني لاروي (ګرځندویه) چې په خپلو سفرونو کې څهویني، اوري یا څه خواږه ترخه حالونه پرې راځي، هغه لیکي، د دوي د سفر پېښې او لیدنې خلک ډېرې صدۍ وروسته هم په شوق لولي او کله کله عبرتونه لاهم ځینې اخلي، د ادب دغه پیڅه په پاړسي کې (سفرنامه) بلله کېږي، پښتانه ورته (یونلیک)وایي"-[1]

یو سفرنامه نګار د خپل سفر ټول حالات، کیفیات، واقعات ملاقاتونه، ولاړې ناستې، جغرافیه،ژوندژواک،دژوندتېرولوطریقې اوسلیقې،دغم ښادۍ رواجونه،رسمونه، ښېګړې،توهمات، رویې،اخلاقیات ، موسونه، او نور ډېر د خپلې سفرنامې برخه جوړوي،ځومره چې د سفرنامه نګار د مشاهدې قوت زیات وي هومره یې سفر او سفرنامه خوندوره او زړۀ راکښونکې وي، او نورو خلقو ته نوي معلومات او نوې تجربې ورکوي، یو سېلانے چې چرته هم ځي د هغې سیمې تاریخ، جغرافیه، کلتور،سیاست او سماجي ژوند یې مخ ته پروت وي، د خپل سوچ او فکر په بنیاد هر څۀ ته ګوري او ویني،د یو سفرنامه نګار مشاهده او نظر له دې نورو انسانانو ځکه بېل وي،چې هغه هرڅۀ ته په تنقیدي

او تخليقي نظر ګوري او د خپلې سيمې او حالاتو سره يې پرتله کوي هم، د ادبياتو په تاريخ کښې سفرنامه يو لرغونی تاريخ او سابقه لري، اکثره تاريخ پوهان په دې نظر دي چې د تاريخ په وړدو کښې لومړی سفرنامه نګار هيروډوټس دی چا چې د خپل سفر احوال د يوې سفرنامې په شکل کښې نړۍ ته وړاندي کړي دی، په دې حواله باندي د اردو وتلې څېړنکاره ډاکټر قدسيه قريشي ليکي چې:

"Herodotus (725ق م) بابائے تاریخ کہلاتا ہے، اسے بابائے سفر نامہ کی بھی حیثیت حاصل ہے۔ وہ اپنے تجربوں پر سفر ناموں کی عمارت تعمیر کرتا ہے اور ان ملکوں کا حال بیان کرتا ہے جو اس وقت یونان کے علم میں تھے. اس طرح سب سے پہلے ہمیں تاریخ کے عظیم شعور سے آشنا کراتا ہے، وہ سفر کے حالات نہیں بلکہ ایسے نتائج بیان کرتا ہے جو جغرافیہ کو نتاتے ہیں. اس طرح ۲۰ق م میں stabo نے بحرہ روم کے جغرافیہ کو اپنے سفری تجربات اور مشاہدے سے ترتیب دیا ہے"۔[2]

ژباړه: هيروډوټس(۷۲۵ق م) که د تاريخ بابا وي نو سفرنامې بابا هم ګڼل کېږي، هغه د خپلو تجربو پر بنسټ د سفرنامو ماڼۍ دروي او د هغه هيوادونو حال بيانوي چې هغه وخت د يونان په علم کښې وۀ ،دغه رنګه تر ټولو لومړے مونږ ته د تاريخ عظيم شعور راکوي، هغه د سفر حالات نۀ بلکې پائلې بيانوي، لکه جغرافيه چې ښائي، دغه رنګه يې په ۲۰ ق م کښې stabo د بحره روم جغرافيه په خپلو سفري تجربو او مشاهدو باندې ترتيب کړه-

لکه چې د نړۍ په نورو ادبياتو کښې سفرنامه يوه لرغونې سابقه لري هم داسې په پښتو ادب کښې هم د سفرنامې تاريخ خورا زوړ او پخوانے دے، په پښتو کښې لومړۍ سفرنامه د خوشحال بابا "سوات نامه" منل شوې ده چې منظومه بڼه لري، له دې پرته د پښتو ادب په جديد دور کښې د پښتو سفرنامې ډېرې غزونې کړې دي او په سلګونوسفرنامې ليکل شوې دي، په دې لړ کښې يوه مهمه سفرنامه د صاحبزاده حميدالله صاحب هم ده، صاحبزاده حميد الله د پښتو يو نامتو اديب او ليکوال وۀ چې په کال۱۹۳۹ء کښې د صاحبزاده عبدالرحمن په درنه کونۍ کښې زوکړے وۀ، پر بېلابېلو موضوعاتو يې د پښتو تر څنګ په اردو او عربي کښې هم ډېر کتابونه ليکلي دي، عبدالباري اسير د صاحبزاده حميدالله د شخصت او علميت په حواله داسې ليکي: "ډېر اوچت علم يې کړے دے په صوبه کښې تر ټولو لوے تعليميافته ځوک دے. دے د يو کالج د پروفيسر په حيث خپله وظيفه اجراء کوي او د ده ادبي خدمات له هيچا پټ نه دي لکه لمر په ټول هيواد کښې څرګنده دے ډېر کتابونه چاپ او ډېر ناچاپه ،چاپ ته تيار دي. د علم دا بې پايانه سمندر چې په څپو سي د معلوماتو سلسلې جاري سي او هر څۀ چې ليکي يا يې په مجلس کښې وائي هغه عالمه او د مقصد څخه ډک وي"۔[3]

صاحبزاده حميدالله د سهيلي پښتونخوا يو پېژندل شوے ليکوال او اديب وۀ چې په ګڼ شمېر کتابونه يې پښتو ادب ته ورکړي دي ، "د عربستان سېل" هم د اروابناد صابزاده حميدالله په قلم ليکل شوې د پښتو يوه مشهوره سفرنامه ده، دغه سفرنامه په لومړي ځل په کال ۲۰۰۵ء کښې د پښتو اکېډمۍ

کوټي لخوا چاپ شوې ده، چې ټول ۱۴۳ مخونه لري، په دې باندې د پښتو اکېډمۍ صدر سيد عابد شاه عابد او سرور سودائي سرېزې ليکلې شوې دي، وروسته د ليکوال مقدمه هم د دې سفرنامه برخه ده، چې د سفرنامې په باب او د خپل سفر په اړه يې په کښې خورا په زړۀ پورې معلومات وړاندې کړې دي، صاحبزاده حميدالله د خپل سفر په حقله ليکي: "زۀ چې د حکومت پاکستان له خوا په ۱۹۷۷ع کې د يونيم کال عربي ژبې د کورس دپاره سره د نورو ملګرو لېږل سوے وم او د سعودي عرب په دارالحکومت "رياض" کې مې يو نيم کال د عربي ژبې د زدکړې دپاره د رياض پوهنتون د لوستونکي په څېر تېر کړ، نو مې دا سفرنامه ليکل پېل کړه"۔[4]

د دې سفرنامې سفر په ۳مه جنوري ۱۹۷۷کال پېل کېږي او په ۲۳جون ۱۹۷۸ع کال سر ته رسي، په دې سفرنامه کښې صاحبزاده حميدالله په ډېره اولسي او خوږه ژبه د عربو په کلتور، سياست، معاشرت او کړو وړو باندې رڼا اچولې ده، د سفرنامې په سريزه کښې سيد عابد شاه عابد د دې سفرنامې په اړه ليکي: "د يوه عام ويونکي دپاره په دغه سفرنامه کښې ډېر معلومات موجود دي، چې مذهبي هم دي، تهذيبي هم او ثقافتي هم، شايد چې د دغه سفرنامې خوند رنګ هم په دغه رنګارنګۍ کې وي"۔[5]

که څۀ هم "د عربستان سېل" سفر ډېر وړاندې شوے دے او بيا ډېر وخت پس دغه سفرنامه چاپ شوه خو بيا هم د دې شمار د يويشتمې پېړۍ په مهمو سفرنامو کښې کوو، ليکوال دغه سفرنامه په دې عنوانونو باندې وېشلې ده لکه، اسلام باد، د لاهور په لور، د رياض په خوا، دحرمين شريفين سفر، بيرته د رياض په‌لور، د رياض‌موسم، وطن ته لومړے راتګ، دحج سفر، دحرمينو دريم سفر، وطن ته راستنېدنه.

د صاحبزاده حميدالله د نثر ليکلو انداز خورا په زړۀ پورې دے، په ډېره ساده او سوچه ژبه خپل مطالب تر لوستونکو پورې رسوي، سوچه توري او شګفته انداز د صاحبزاده صاحب ځانګړتيا ده، په خپله کلي واله لهجه کښې خپل پېغام تر قاري پورې رسوي، هسې خو صاحبزاده حميدالله په اردو، عربي، انګرېزي او فارسي کښې هم ډېر ليکل کړي دي، خو کله چې يې د پښتو ليکل لولو نو له دې ژبو ډېر سوچه معلومېږي، په دې سفرنامه کښې هم نوموړي هغه خپل ځانګړے ستائل خپل کړے دے، کله چې هغه سعودي ته روانېږي نو د تياري په لړ کښې څو ورځې په لاهور کښې هم تېروي، هلته د پښتنو په حقله د پنجابيانو نظر داسې وړاندې کوي چې د صاحبزاده حميدالله د ليک انداز ورڅخه کېدا ے شي:

"پښتنون ډېر عجبه ورته معلومېږي، اول ئې د پېښور خيال پر راځي، چې د کوټي نوم واوري نو يو دم د يخ او واوري پوښتنه ځني کوي، او يا ئې کوټه ليدلې وي يا ئې د ليدو ارمان لري يا سبا ور روان وي، کله کله زه ورته وايم چې ستاسي هغه اويا زره په موږ کې ګرزي ولې داسي برګ برګ راته ګوري؟ دے نه تا کړي نه ما کړي مخ درڅخه واړوي"۔[6]

د صاحبزاده حميدالله صاحب "دعربستان سېل" سفرنامه په دې حواله هم خورا ځانګړې ده، چې دۀ پکښې د منظرنګارۍ هم پوره پوره خيال ساتلے دے، د ښکلو او خاص سيمو او شيانو داسې منظرونه

یې وړاندي کړي دي لکه قاري چې په خپلو سترګو دا هر څۀ ويني، صاحبزاده حميد الله د تصوير جوړونې په چل هم ښۀ پوهېږي، منظرونه په لفظونو کښې ښۀ سره پېوند کوي، په دې سفرنامه کښې د نوموړي ډېر په زړۀ پوري د منظرنګاري بېګلې وړاندي کولے شو، کله چې هغه په لومړيو ورځو کښې د رياض په ښار کښې ګرځي او هرې ننداريې ته ډېر په ځير سره ګوري، د رياض پراخ سړکونه، د خرما ونې او بوټي په خوند خوند سره يادوي، کله چې هغه ديو پراخ سړک په غاړه روان وي نود دې منظرکشي په داسې ټکو سره کوي:

د څړکانو په ميانو کي د خرما وني او نوري داسي د نارنګۍ د ونو غوندي بوټي ولاړ وو، لاندې شنه واښه وو، د ګلانو بوټي هم وو، چي ډېر ښه خوند ئي کاوۍ، بيا چي پسرلے سو او ټول ګلان غوړېدل نو ئې ډېر عجبه خوند وکړ، پر لاري مو لوے لوے عمارتونه وليدل، اووه سره اته سره لس سره خو داسي ساده غوندي ښکاره کېدو، زياتره خړ پړ، تا به ويل د ختو دي-[7]

د صاحبزاده حميد الله صاحب "د عربستان سېل" سفرنامه که يو لورې ته په ادبي ښکلا او خوږو ډېر خواږه او ښائست لري، نو بل طرف ته دلچسپ او زړۀ راکښونکې هم ده، د ډېرو مذهبي معلوماتو سره سره د عربو د ټولنې او اولس په حقله جالب معلومات هم راکوي، صاحبزاده حميد الله په دې سفرنامه کښې خپلې تجزيې، مشاهدې، او ادبي تجربې له لوستونکو سره شريکې کړې دي، هغه چې څۀ هم ويني نو له خپلې مشاهدې سره يې د لوستونکو په وړاندې ږدي، په ځينو مذهبي ماملاتو کښې هم د سعودي په شاهانو باندې نيوکه کوي، ځکه چې صاحبزاده حميد الله که يو طرف پښتون اديب او شاعر دے نو بل خوا يو ښۀ ديني عالم هم دے، په ډېرو ديني مسلو کښې يې له سعوديانو وهابيانو سره اختلاف هم کړے دے او بيا يې ښۀ دليل هم ورته وړاندي کړے دے، يو داسې وخت هم راغلے دے چې د سعودي حکومت له لوري په قبرونو باندې ګمبتي او عمارتونه نړول شوي وو، او په اسلامي نړۍ کښې يې سخت مخالفت هم شوے ؤ، صاحبزاده حميد الله د يو نقاد په توګه د دوي دا عمل نۀ يوازې غندلے دے بلکې دې ته يې دليل هم وئيلے دے، لکه په دې حواله چې ليکي:

"دا صحيح ده چي اسلام پر قبرو د عمارتو او بناوو څخه مخالفت کوي، خو په ټوله نړۍ کي د واکدارانو، باچهانو او صلحاوو پر قبرو سربېره په زرهاوو، لکاوو ګومبتي او مزارونه جوړ دي، خو چا علماوو دا فتوي نه ده ورکړې چي دا دي مات کړل سي، بل دا چي مخالفت خو د قبر د پخوالي دے، قبر خو هغسي اوم وي، چي لاندي وي او شا وخوا ګومبته پر جوړه وي"-[8]

صاحبزده حميد الله په دې سفرنامه "د عربستان سېل" کښې دژوند ټولو حقيقتونو ته ګوته نيولې ده، د خپل تنقيدي سوچ او ادبي ذوق له کبله هر څۀ ته د زړۀ په سترګو ګوري، د عربيانو ځينو خراب خويونو باندې يې په زړۀ پوري تنقيد هم کړے دے، هيڅ وخت يې هم ړوند تقليد نۀ دے کړے، نۀ يې

هم په پټهو سترګو اقتدا کړې ده، ،د عربو ځینې جابرانه خصلتونه یې غندلي هم دي، صاحبزاده حمیدالله د خپل علمیت له کلبه د دوي هر څهٔ په ډاګه کړي دي،لکه د دوي د یو خراب عادت په حواله چې لیکي:

"یوه خبره بله چې زما طبعیت ډېر په خراپ سو،هغه دا چې تر لمانځه وروسته ما ډېر سعودیان ولیدل چې د ګوتهو سره په ماجت کې ګرځېدل او پر چټایانو باندي هم ختلو،دلته دا شی عام دے،نو نه یم خبر چې دا د سعودیانو د بدوي مزاج خاصه ده چې ډېر احتیاط و خواپاکي نۀ کوي او که د نجدیانو د وهابیت اثر دے چې د توحید په ډېر زور کې دوي ډېر وخت د هیڅ شي احترام هم نۀ کوي او داسي احترام د نوحید منافي ګڼي"-[9]

د صاحبزاده حمیدالله په دې وړه سفرنامه کښې د عربو تهذیبي او ثقافتي رنګونه هم ډېر تر سترګو کېداے شي،صاحبزاده صاحب د یو زیرک سېلاني په توګه د عربو کلتوري اړخ ته کتلي دي،د دوي دژوند کړۀ وړۀ یې له ډېري نژدې ځارلي دي،د دوي د ژوند ژواک،طور طریقې،خویونه او عادتونه، ناسته پاسته،ښځینه او نارینه جامې،ژبه او ادب مطلب دا چې په ډېر تفصیل یې دا هر څهٔ د یو محقق په توګه د لوستونکو په وړاندې ایښې دي،لکه یو ځاے چې د عربو د ښځینه برقعو په حقله داسې لیکي:

"د مخه به د عربو ښځو برقعه دوني لویه وه چې یو یو ګز به تر شا ورسره ځکېده،اوس خو ورکه سوه،پاته سو د عربو نارینه وو کالي نو هغه دغسي وو لکه موږ چې به کله کله په اخبارو په کتاب کې لیدو ،یعني پر سر باندي څلور کونجه کشنے دسمال واچوي،چې تر هغه لاندي نرۍ سپینه خولۍ هم وي او سربېره دوې غبرګي توري اوودلي رسۍ چې د پټکي یو ډول دے،پر واغوندي چې دسمال نه ایله کېږي ،خو د لمانځه په وخت دا رسۍ ایله کېږي،نو ئې دوي وکاږي او مخ ته ئې کشېږدي"-[10]

د اسلام د تاریخي ځایونو په حواله او د سعودي شاهانو د تاریخ په حواله ډېر څهٔ د دې سفرنامې برخه دي،صاحبزاده حمیدالله تاریخ په پټهو سترګو نۀ دے بیان کړے بلکې دلته یې هم د تاریخي کتابو حوالې مخې ته راوړې دي،او د تاریخ پټهو ګوشو ته یې سر ور دننه کړے دے،د عربستان د سېل په مهال چې لیکوال هر څهٔ ته کتلي دي،نو سم دلاسه یې د هغه سیمو او ځایونو تاریخ هم بیان کړے دے،خانه کعبه چې د ټولو مسلمانو په زړنو کښې یو مقدس مقام لري،صاحبزاده حمیدالله نۀ یوازې لیدلو ته ډېره لېوالتیا ښکاره کړې ده بلکې د دې مقدس مقام په تاریخي حثیت باندې یې هم په زړۀ پورې رڼا اچولې ده،په دې حواله لیکي:

"د کعبې د حرم شریف اخري تعمیر توسیع سلطان مرادخان ثالث عثماني خلیفه په ۱۰۶۳هجري کې وکړ،چې شا وخوا ئې د حرم دالانونه چې کشني کشني ګمبتي پر سر لري،جوړ کړو،حرم ئې پراخ کړ،د کعبې شریفې د سنګ مرمر په سنګ بنیاد باندي دا تاریخ بشپړ لیکل سوے دے،سلطان سلیمان اعظیم په ۹ هجري کې د ژړو له تیره چترۍ نما سایوان څښتن د سنګ مرمر محراب رالېږلے ؤ،چې تر اوسه له مقام ابراهیم سره ښخ ولاړ دے"-[11]

صاحبزاده حميدالله په دې سفرنامه کښې دسعودي عرب ديونيم کال دمسافرت اوحوال وړاندې کړے دے، په دې دومره اوږه موده کښې ښکاره خبره ده چې دۀ به هلته ډېر څۀ له نژدې ليدلي او کتلي وي، دعربيانوپه کلتور، تاريخ، عقيده اومعاشي نظام په حقله په دې کتاب کښې ډېر څۀ ليکل شوي دي، د عربستان د خلقو په ګټه وټه او روزګار باندې هم خورا تفصيلي رڼا اچول شوې ده، نۀ صرف دا بلکې کوم بهرني خلق چې په عربو کښې ژوند کوي د هغوي په معاشي سرګرميانو باندې يې هم خبره کړې ده، صاحبزاده صاحب زياته موده په رياض کښې تېره کړې ده نو ځکه يې په دې سفرنامه کښې د رياض په حقله ډېر معلومات ترلاسه کېدا ے شي، په رياض کښې چې کوم عيسايان، هندوان او سيکان ژوند کوي د دوي په حقله ليکي:

"په رياض کي په زرګونو هندوان وسيکان وعيسايان وو، چي د ښار د صفائي او نور بلدياتي (Muncipal) کارونه به ئې کول، په زرګونو پاکستانيان، افغانان او د نورو قوميتو خلګ وو، چي په کار او مزدورۍ پسې به راتلو، چي په لومړيو کلونو کي ئې د مياشتي اجرت يا تنخا دوه زره رياله (د هغه وخت شپږ زره روپۍ) وه بيا پنځلس سوه سوې، بيا به خود و زر رياله رارسېدلې وي، خو زر رياله هم د نن سبا اته زره پاکستانۍ روپۍ کېږي"-[12]

صاحبزاده حميدالله د خپل ځانګړي اسلوب له کبله د ادب په نړۍ کښې پېژنګلوي لري، بقول د سيد عابد شاه عابد چې د صاحبزاده په مزاج کښې شګفتګي او د مزاح له عنصر سره د تنقيد او بحث مباحثې ذوق هم زيات دے، هم دغې مزاح د نومړي فن او هنر ته ښکلا بخښلې ده، ځکه خو يې دغه مزاحيه رنګونه په دې سفرنامه کښې هم ځا ے په ځا ے سر ښکاره کوي، او لوستونکو ته اطمينان ورکوي، د اروابښاد صاحبزاده طنز او مزاح په ډېره ادبي پېرايه کښې وړاندې شوے دے، ځکه خو د دۀ په قلم کښې هغه طاقت شته چې لوستونکو په خندا باندې مجبوره کړي، دلته به "د عربستان سېل" فقط لاندينے اقتباس وړاندې کړو چې د نومړي مزاحيه اړخ ورڅخه څرګندېږي، کله چې هغه د عربستان د سفر د تياري په لړ کښې په کراچۍ کښې شپې تېروي او د کراچۍ په بازارونو کښې ګرځي، نو په دې باب ليکي:

"څلور ورځي مي دالته ډېري په راحت او په خوشالۍ تېري کړې، زه خو هم يو کشنے ابن بطوطه او سندباد يم، په ورځ کي به يو وار خامخا په بس کي د ښار سيل ته وتلم"-[13]

کله چې په اسلام کښې د مسلکونو خبره راشي نو د هرې سيمې خلق په خپل مسلک نه صرف ټينګ ولاړ وي بلکې نورو ته يې تبليغ هم کوي، صاحبزاده حميدالله هم خپله مسلکي رسۍ هم دومره ټينګه نېولې ده لکه څومره چې د نړۍ نور مسلمانان په خپلو خپلو مسلکونو باندې باوري دي، خو ځينو اسلامي رياستونو بيا خپل مسلکونه دومره مقدس ګڼلي وي چې هلته د بل مسلک والاخبره هم نۀ شي کولے، په خاصه توګه سعودي عرب چې د نورو مسلکونو ته کله کله د شک په سترګه هم ګوري،

صاحبزاده حميدالله چونکې يو نامتو ديني عالم هم دے،او په عربي او نورو ژبو يې بشپړ عبور دے،د مسلکونو تر منځ اختلافات هم په علمي دلائلو څېړي، کله چې د ختلاف خبره منځ ته راشي نو صاحبزاده حميدالله بيا داسې نظر ورکوي: "خو هلته د اهلحديثو يا د حنبلي مسلک خلاف هيڅوک له ويري څه نه سي ويلاے او د نيمي وچي حنفيان خپل حنيفي مسلک پټ پټ ساتي او وخت تېروي،خو ما به ګرسره خبره نه ورسره لاتدي ايستله،يو وخت دوه چا اعتراض په توګه څه داسې خبره هم وکړه،چې ته حنيفي ئې؟ ما ورته ويل،ولې دا څه ناولده خبره ده؟زموږ مسلک هم پر صحيح حديثو ولاړ دے او زموږ امام صاحب داسې اجتهاد کړے دے،چې زموږ دپاره ئې ډېره آساني جوړه کړې ده،او موږ بې څه د غدغې يا چورت وفکره عمل پر کوو".[14]

لنډه دا چې په دې سفرنامه "د عربستان سېل" کښې صاحبزاده حميدالله صاحب د خپل سفر ټول حالات،کيفيات،واقعات ملاقاتونه، ولاړې ناستې،د عربستان جغرافيه او د هغوي ژوند ژواک، د عربو د ژوند تېرولو طريقې او سليقې، د غم ښادۍ رواجونه، رسمونه، ښېګړې، توهمات، رويې ،اخلاقيات ، موسونه، او نور ډېر د خپلې سفرنامې برخه جوړ کړي دي،صاحبزاده حميدالله صاحب د خپلې مشاهدې په قوت د عربو سياسي،کلتوري،سماجي او معاشي ژوند ته په ژور نظر کتلي دي او دا هر څۀ يې په ډېر هنر د خپلې سفرنامې برخه ګرځولي دي.

## حوالې

[1] هاشمي،محي الدين،سيد ،د ليکوالۍ هنر ،ميهن خپرندويه ټولنه،جلال اباد ، ۲۰۱۶ء،مخ ۱۷۰

[2] قریشی، قدسیہ ،ڈاکٹر، اُردو سفر نامے انیسویں صدی میں، مکتبہ جامعہ لمیٹڈ، دہلی، 1987ء، ص26

[3] اسير ،عبدالباري،داحساس سترګي،شېدايان پښتو ادب پښين۱۹۸۵ ،مخ202

[4] حميدالله،صاحبزاده،د عربستان سېل،پښتو اکېډمۍ کوټه، ۲۰۰۵ ،مخ۱۲

[5] عابد شاه عابد ،سريزه،د عربستان سېل،پښتو اکېډمۍ کوټه، ۲۰۰۵ ،مخ۷

[6] ايضاً ،مخ۱۷

[7] ايضاً ،مخ۴۲

[8] ايضاً ،مخ۹۴

[9] ايضاً ،مخ۴۸

[10] ايضاً ، مخ۴۱

[11] ايضاً ،مخ۷۶

[12] ايضاً ،مخ۱۱۸

[13] ايضاً ،مخ۲۲

[14] ايضاً ،مخ۱۰۱